Day:______ Date:______

# رحمان بابا

## ۱- پېژندنه:

رحمان بابا چې ورته د پښتو حافظ شیرازي هم وئیلی شي ، د پښتو ژبې زړه پورې او لوي عظیم صوفي شاعر دے. د رحمان بابا خپل نوم عبدالرحمن مهمند وه او په پښتو کښې په رحمان بابا مشهور دے. رحمان بابا د خوشحال خان خټک هم عمر وه او د بغداد د عبدالقادر جیلاني رح پیروکار وه. رحمان بابا په پښتو کښې ډېر مقبول او خوږ شاعر دے.

## ۲- د رحمان بابا زیږېدنه او شجرهٔ نسب:

رحمان بابا خواوشا په 1065ھ هجري په 1644ء کښې د پښتونخوا په ښار بهادر کلي کښې پیدا شوے دے. د کامل صاحب مطابق رحمان بابا په 1063ھ کښې زیږېدلي دے.

رحمان بابا د پښتنو د مهمند قبیلے غوریه خیل خانګے سره تعلق ساتلو او، د رحمان بابا د پلار نوم عبدالستار خان وه، د رحمان بابا مزار د پېښور ښار په هزارخوانی ادېره کښې دے.

## ۳- د رحمان بابا ژوند حالات:

1- ابتدائي تعلیم: رحمان بابا خپل

Babar Paper Product

ابتدائي تعلیم د مولوی محمد یوسف یوسفزے نه حاصل کړي دے او اعلی تعلیم یې د کوهاټ په شیرکوټ علاقه کښې حاصل کړي دے۔


## 2- د رحمان بابا اخلاق و عادات:

رحمان بابا یو درویش او امن پسنده انسان وو۔ هغه د قبائلو تر منځه جنګ نه خوښولو او نه کله د هغه جنګو کښې شرکت کړې دي۔ رحمان بابا عاجزي او فقیري خوښه کړې وه اګر چه د خانې کورنۍ سره یې تعلق لرو۔

## 3- د رحمان بابا عالمګیریت:

رحمان بابا د پښتو واحد شاعر دے چې په ورو غټو، ښځو سړو، خوانانو بوډاګانو، تعلیم یافته او بې تعلیمه او ملایانو و عالمانو کښې یو شان مشهور دے۔ د رحمان بابا د ډېرو شعرونو نه متلونه جوړ شوي دي۔ او داسې پښتون به نه وي چې د رحمان بابا د شاعرۍ نه څه حصه ورته یاده نه وي۔

## 4- د رحمان بابا د ژوند خاکه:






Scanned with CamScanner

Day: Date:

## ۴- د رحمان بابا شاعري:

د رحمان بابا شاعرۍ ته لوی اعلی مقام حاصل دے۔ رحمان بابا عمیر قسمه علم او فلسفه په ښکلې شاعرۍ کښې بیان کړي دۀ۔ رحمان بابا ته د پښتو صوفیانه شاعرۍ بادشاه هم وئیلې شي۔

### 1- رحمان بابا د شاعرۍ ښکاره اړخونه:

د رحمان بابا د شاعرۍ ټولو نه غټه موضوع پند و نصیحت یعني ناصحانه شاعري یا اخلاقي شاعري دۀ۔ دې نه علاوه تصوف یعني حقیقي شاعري او عشقیه شاعري د رحمان بابا د شاعرۍ نور موضوعات دي۔

### ۱- اخلاقي شاعري یا ناصحانه شاعري / پند و نصیحت:

رحمان بابا چې د اخلاقیاتو موضوع څومره چېړلې ده دومره لږ بل شاعر نۀ ده چېړلې۔ د دوي شاعري د خوږو خوږو نصیحتونو نه ډکه ده۔

### د اخلاقي شاعرۍ نمونې:

- چې و بل ته نصیحت کا ځان ته عمیر دے
لوړ څوک نۀ دي هغه ته عبدالرحمان یې

په ځان تنقید کوي. وائي چې اول ځان سم کړه بیا نورو ته نصیحت کوه۔



Scanned with CamScanner

- دا خبره زهٔ وځان ته کوم اے یاره
د نکیر مهٔ شه که مې لوم واخست دستا

یعنی دا زهٔ ځان ته وایم، نه خفه کیږه مه عسې مې ستا لوم واخست خو دا خبره زهٔ خپل ځان ته کوم. زهٔ دومره بنده سړی نه یم چې تا ته نصیحت کوم.

- راحت نهٔ دے بې زحمته چا موندلے
غم بنیادي دي د دې دعمر دور او خور

خوشحالي او سکون پټ دي د سختئ او مشکلو لاندې یعني په دنیا کښې چې اوسیږي کله به غم وي او کله خوشحالي.

- کل وسواس له احتیاط پیدا کیږي
زهٔ له ډیرې هوښیارۍ لیونے شوم

وائي چې کله سړی ډیر احتیاط کړي چې عسې نه طوفان راشي، زلزله راشي یا بل څه اوشي نو دې وجې نه وسوسې پیدا کیږي کله وي زهٔ چې سنګه د ډیرې هوښیارۍ لیونے شوم.

• دٔ بې عمله علم باره کښې وائي:

- علمیت د بې عمله عالمانو
ګویا ګنج د کتابونو په خرهٔ بار شه

رحمان بابا وائي چې د هغه عالمانو علم چې عمل پې نه کړي مثال يې داسې دې لکه په خرهٔ چې د کتابونو خزانه بار شوې وي، مطلب په خرهٔ کو هر څومره کتابونه بار شي وي هغه هیڅ فائده نشي اخستې.

ــــ عمل وکړې صحیح عمل ورباندې نه کړې
لکه طفل سبق لولې په کتاب کړې

چې کوم خلق عمل وکړي او عمل پرې نه کړي نو مثال ئې
د هغه ماشومانو دے کوم چې سبق په کتاب لولي کوي.

## د حلال او حرام باره کښې:

ــــ ما ته ملا په مشقت په محنت ښه ده
نه حرامه هميانۍ د چا تر ملا

محنت او مشقت ښه خبره ده د هغه حرام مال نه
کوم چې د چا نه راپېښ کړې وي.

## د بې انصافه انسان باره کښې وائي:

ــــ که څوک تله د انصاف درنه په لاس کا
خپل ټټو او د بل اس په برابر کړي

د هغه کس باره کښې وائي کوم چې بې انصافه وي. وي که نا ئې
چا او وئیل د انصاف نو خپل خچر او د بل اس به برابر کړي.

## د خدمت خلق باره کښې وائي:

ــــ هغه زړه به له طوفانه په امان وي
چې کښتۍ غوندې د خلقو بار بردار شي

په زړه کښې چې د بل غم ساتي نو زړه به ئې د
طوفان نه په امان وي.

Babar Paper Product

## د وخت قدر په حقله:

— ته ورځ تېرې اوبه بېرته نه جاروځي
نه جاروځي تېر ساعت په بېرته بيا

خنګه چې دورځه تېرې اوبه واپس نه راځي همغه شان تېر شوي وخت هم واپس نه راځي.

— تېر ساعت په مثال هم د لحد دے
هم چا نه دے ژوندے کړے په ژړا

کوم وخت چې تېر شي همغه بيا نه شي راتلې ځکه خنګه چې هم دوباره نه شي ژوندي کيدې.

## 2- حقيقي شاعري يا د رحمان بابا شاعرۍ کښې تصوف/عرفان يا معرفت:

د رحمان بابا کلام کښې

مونږ ته د تصوف رنګ د هر چا نه زيات غالب ښکاري. حقه داده چې رحمان بابا د صوفياؤ سردار او د عاشقانو د سر تاج دے.

## د کلام نمونې:

## د الله تعالى په مينه کښې وائې:

— چې د اعشق لوے مېلمه ته کور ته بيايي
اول غوړے پاکيزه کړه له خاشاکه

يعنې کله چې ته د الله تعالى سره د مينې دعوه کښې نو اول د زړه نه ټولې مينې لرې کړه (د اولاد مينه، د مال مينه وغيره). مطلب زړه خو صفا کړه بيا د الله تعالى مينه زړه ته کوزه کړه.



Scanned with CamScanner

Day: Date:

ـه دا زما د یار جلوه ده چې لیده شي
تکه تم په صومعه په سومنات

وائي چې څنګه تم په کرجې او په جماعت او په مندر تکي د هغه شان د الله تعالی جلوه په هر سه کښې ښکاره ده۔

## د صوفیاؤ کرامت باره کښې وائي:

ـه دغه واړه کرامت د عاشقۍ دے
چې څوک غوث کړي څوک قطب څوک اوتاد

وائي چې اولیاء الله د الله تعالی او د پیغمبر علیه السلام په مینه کښې داسې مقام ته رسیدلي چې یا خو عشقې له الله پاک د غوث مقام ورکړي یا د قطب او یا اوتاد۔ لوم چې د تصوف مرحلې دي۔

## د معرفت حاصلولو باره کښې فرمائي:

ـه که په ځان باندې قدم کیږدې رحمانه
جهانونه به دې لاندې تر قدم شي

مطلب چې خپل خواهشات (نفساني او جنسي) باندې کله د انسان وس بر شي دې بیا د الله تعالی د معرفت ته هیڅ څوک منع کولې نه شي۔ او بیا به ټوله دنیا د ده د قدم لاندې شي۔

## د الله تعالی پیژندنې باره کښې څه داسې فرمائي:

ـه نور د شمعې په فانوس کله پټیږي
تا چې واغوستې د خیال جامې تر څه

څنګه چې د شمعې رڼا فانوس کښې ښکاري دغه شان الله پاک د کائناتو په هره زره کښې ښکاري لکه په ګل، سمندر، جنګل،

Babar Paper Product

Day:____________ Date:____________

انسان، حیوان، هوا، باران تر دې چې دکائناتو ذره ذره د الله تعالی په موجودګۍ ګواهي ورکوي.

که د ستا په مخ کښې پروې د حجاب نښته پټ
زه له ډېرې خلې وايم چې نقصان دے

یعني ستا په مخ بالکل حجاب نشته، خو ښائست دې ډومره ډېر دے چې زۀ پکښې ستا مخ نشم لیدے ځکه چې ~~[crossed out]~~ ئې نه شي کتې.

نبي پېر دې حسن په جانۀ وي لېدلے
که څوک وائي چې لیدۀ شي تش ګومان دے

فرمائي چې الله پاک او د رب تعالی تخلیق دومره حسن لري چې نبي پېر دې ورته کتل نۀ کېږي او کۀ څوک دا وائي چې کتل ورته کېږي نو دا د دغه عصي ګومان دے.

## د پېغمبر علیه السلام معراج واقعې په حقله فرمائي:

چې په یو قدم تر عرشه پورې رسي
ما لیدلے دے رفتار د درویشانو

رحمان بابا وائي چې د درویشانو داسې رفتار دے چې په یو قدم عرش تر رسي. یعني ځکه چې زمونږ خوږ پېغمبر یو قدم په بوراق کېښود او چې بل قدم ئې کېښود نو په عرش کښې مبارک ولاړ وۀ.



Scanned with CamScanner

Day:________ Date:________

## 3. د رحمان بابا شاعرۍ کښې د عشق برخه:

رحمان بابا خیله

شاعرۍ کښې د عشق او محبت موضوع ډیره ډېره

خوږه او ښه الفاظو کښې بیان کړې دۀ. حقیقي

عشق د الله پاک دے یا عشق د محمد رسول الله ﷺ دے۔

### د عشقیه شاعرۍ نمونې:

### د الله تعالیٰ او پیغمبر پاک ﷺ د عشق باره کښې فرمائي:

دا جهان دے خدائے له عشقه پیدا کړے

د جمله وُ مخلوقاتو پلار دے دا

دا دنیا الله تعالیٰ د محمد مصطفیٰ ﷺ د مخ مبارکه پیدا کړے

دا، ځکه چې آدم ؑ پیدا شو او عرش ته یې اوکتل نو یې

عرش برې یې لیکلي وۀ لا اله الا الله محمد رسول الله، مطلب

دا جهان الله پاک د محبوب ؑ په عشق کښې پیدا کړې۔

و اسمان ته ارس د عقل نۀ رسیږي

دا خو عشق دے چې په عرش کرسی قدم ږدي

په عقل څوک اسمان ته ختلې نه شي۔ محبوب پیغمبر ﷺ که

په عرش قدم ایښے وۀ نو دا د عشق د برکته۔

### عبادت باره کښې فرمائي:

چې یې سر په زمکه ایښے وي خیل یار ته

په اسمان باندې ختلے لکه ستمه دے

کوم بنده چې په زمکه خپل سر الله تعالیٰ ته ایښے وي



Scanned with CamScanner

د صفحه پنځه مثال په شان د شمر د اوم چې په
اسمان پر ګیږي ۔

## مجازي عشق باره کښې فرمائي :

- نه رسیږي ستا د حسن ونه کوره
څه به ورسي میر منې ته منزدوره

د بي بي باره کښې فرمائي چې ستا حسن ته د جنت
حورې هم نه رسیږي ځکه صفه خو به د جنت کښې
ستا خادمه وي ۔

## ۴- ژوند ژواک باره کښې شاعري :

- نه شي د خانانو ملنګانو سره کلي
جرګه عزیز خان جرګه ملنګ عبدالرحمان

عزیز خان د رحمان بابا دور وه صفحه به ورته وئیل خاني کوه
رحمان بابا به ورته ما ملنګی ته پریږدا ۔ رحمان بابا د علم تصوف
دپاره صفه ته تلو عزت د لو ښار نه را واپس کړو ۔

- اورنګ زیب او شاه جهان غونډي اشراف
صدقه شه تر منصور غونډي ننداف
د مغلو بادشاهان منصور حلاج ته قربان شي ۔

Day: Date:

## د خپلې ملنګۍ او عاجزۍ په حقله فرمائي:

زه دینار او درهم نه لرم په کور کښې
ولې لوړ خلق مې بولي دنیا دار

ما سره په کور کښې سه نشته او خلق وائي چې مالداره دے۔

په هر کور کښې رنځوران راشه پیدا دي
راس مې نه رسي د هیڅ په دوا

وائي چې داسې خلق شته چې رنځوران یعنې بیماران دي
خو وي زه هیڅ مال و دولت نه لرم چې علاج ورله اوکړم۔

## ۵- نرګسیت یا شاعرانه تعلي:

نرګسیت یعنې

شاعري ده کوم چې شاعر د خپل ځان باره کې۔ د رحمان بابا
خپل ځان باره کښې شاعري د هر قسمه مبالغې نه پاکه ده،

## رحمان بابا خپلې شاعرۍ د قدر او اهمیت باره کښې فرمائي:

ملغلرې
دُر ګوهر په تله نه دي چا تللي
د رحمان شعر ګوهر دے خه لولې

څنګه چې ملغلرې، هیرې او جواهرات خلق نه تللې دغه
شان د رحمان بابا شعر هم دے۔

چې منکر پرې اعتراض کولے نه شي
دا دې شعر دے رحمانه که اعجاز دے معجزه

یعنې سا د شاعرۍ افکارې هم پکښې عیب نشي راوېستې، لګ
دا دے شعر دے که معجزه ده۔

Babar Paper Product

## خپل محنت او برداشت په حقله فرمائي:

ــه چې تمام د خپل ځیګر په وینو رنګ دے
د رحمان خبرې ځکه رنګینې دي

دومره مې سختۍ مې برداشت کړې دي او دومره محنت مې کړے دے چې خپل ځان مې د ځیګر وینو په رنګ، رنګ کړې دے ځکه د رحمان بابا په کلام کښې اثر دے۔

## حقیقي محبوب ته فرمائي:

ــه ستا د حسن د تعریف له برکته
د رحمان د شعر کوکې په عالم وي

دنیا ← → چغې (واه واه)

ستا د حسن تعریف چې زه کوم د هغې د برکته په ټوله دنیا کښې د رحمان بابا د شاعرۍ صفت کیږي۔

ــه زه رحمان چې ستا د حسن ثنا خوان یم
ستا له رویه درست جهان زما ثناه کړه

الله پاک ته فرمائي چې زه ځکه ستا د حسن تعریف کوم نو د دې جهان خلق بیا زما صفت کوي۔

## 5- د کلام خلاصه:

خلاصه دا شوه چې رحمان بابا لوی عالم شاعر دے۔

زه رحمان په پښتو ژبه عالم یم